# ولې مطالعه نه کوئ؟

پوهیږئ چې مطالعه د ناپوهۍ او جهل په وړاندې اصلي جګړه ده. نو بیا ولې مطالعه نه کوئ؟ او ولې کتابونه نه لولئ! ښايي چې یو ځواب مو داوي چې ډېر بوخت یاستو، اضافي وخت نه لرو چې مطالعې ته یې ځانګړی کړو. خو دا ددې دلیل کیدای نشي او دا به یوه بهانه وي، چې ځینې خلک یې کوي. نو څنګه چې د تلویزیون لیدو، د سریالونو کتو، سیاسي بحثونو او فکاهۍ ویلو له پاره په ساعتونو وخت لرو، د کتاب د لوستلو له پاره وخت نه لرو؟

په ورځ کې درې یا څلور ګړۍ په ټولنیزو شبکو باندې بوخت یاستو، له ملګرو یا نورو کسانو سره په بنډار یا چټ کولو ته وخت وي. بیا وایو د مطالعې له پاره وخت نه لرو. نه هېڅکله! باید له دغو ذهني مصروفیتونو څخه ذهن د کتابونو په لوستلو بوخت کړو، چې یو څه زده کړو او نور خلک زموږ له کمالاتو ګټمن شي. د وخت کمښت په خلکو کې یوه لویه پلمه ده، باید چې له ناوړو پلمو او لټیو ځان وژغورو او مطالعې ته مخه کړو.

ځینې وګړي وایي، د کتابونو بیې خورا لوړې شوې دي، توان یې نه لرو، چې کتابونه ترلاسه کړو، نه دې ته مو فکر نشته چې په انټرنیټي شبکو پیسې ورکوو، نو کتاب چې زموږ راتلونکي نسلونو ته پاتې کیږي، دا نو بابیزه ګڼو.

څنګه چې په دغه اقتصادي او ویجاړ حالت کې کولای شو چې د لوړو بیو جامو، د لوړماډل موبایلو سیټونه او نورو لوړو بیو توکو لپاره پیسې ورکولای شو او کتاب چې دیادو څیزونو په پرتله ډېره ټیټه بیه لري، بیا پیسې نه وي، چې په کتابونو یې ولګوو.

ولې ستاسې فکري او فرهنګي زمینې ستاسې د بودجې وروستنی کتار جوړ کړی؟ که چیرته مو له بودجې څخه پیسې سپما شي، وروروسته یې د کتابونو پیرلو (اخیستلو) ته جلا کړئ له دې پرته به فرهنګي لګښتونو لپاره هیڅ بودجه شتون ونه لري.

نو بیا دغه د لیلونه دمنلو وړ نه دي؟ د وخت او د بودجې کمښت له مطالعې څخه د تېښتې لپاره دلیل نه دی، بلکې یو بهانه لټول دي او زړه ته ډاډ ورکول دي، چې دادهغو خلکو لپاره بې غوري او لټي ده، چې دلوست له برکتونو او ارزښتونو خبر نه دي.

سمه ده، چې زموږ هېواد داقتصاد له اړخه وروسته پاتې هیواد دی او که تاسو داقتصادي بحران څخه سرټکوئ، چې مطالعې لپاره پیسې نه لرئ، نو آسانه لار داده، چې د عامه کتابتونونو دروازې ستاسو پرمخ خلاصې دي او کولای شئ، چې خپل ذهني او زده کړییز تمرکز ته پرمختیا په همدغو اکاډمیکو او نوروښوونیزو مرکزونو کې کولای شئ ترسره او خپلې ستونزې پرې حل کړئ اوغوره ده، چې څو ځلې دغوچارو ته دوام ورکړئ نو ژر به تاسو دمطالعې په فرهنګ ځان روږدي کړي وي.

نو راځئ له مطالعې نه تښته ونلرو، له ځان یې پیل کړو او دمطالعې فرهنګ په ټولنه کې رامنځته کړو، څو خلکو ته دلوست په تړاو ارزښتناک او ګټور مالومات ورسو، چې زموږ افغاني ټولنه نور دناپوهۍ له راګیر شوي دام نه خلاصی پیدا کړي او هم به دلوست په معیار ځان کې بدلون او دشخصیت جوړنې لپاره به مو لوړ مزلونه ترسره کړي وي.

**لیکنه : محمد زلمی «هیوادمل»**

# استفاده از انرژی پاک و اهمیت آن

انرژی آفتابی از منابع مهم تامین انرژی رایگان، پاک و عاری از اثرات مخرب محیط زیستی است که از دیرزمان به روش های گوناگون مورد استفاده بشر قرار گرفته است. پیشرفت صنعت و تکنالوژي هاي جدید در جهان توانسته است که منابع انرژي بدیل اقتصادي و بي خطر را در اکثر بخش ها معرفي نماید. خوشبختانه این صنعت و تکنالوژي ها در اکثر ممالک جهان و خصوصاً در کشورهاي روبه انکشاف مفید واقع شده به منظور کاهش و صرفه جویی در مصرف، کنترول عرضه و تقاضای انرژی و کاهش انتشار گازهای آلاینده با استقبال فراوانی روبرو شده است.

آفتاب منبع عظیم انرژی بوده و این کره نورانی منشاء تمام انرژی های دیگر است، به اساس تخمین ها و محاسبات متخصصین، شعاع آفتاب در افغانستان بطور اوسط دریک روز ۲,۵ کیلوواتت في ساعت در یک متر مربع میباشد و این کشور سالانه درحدود ۳۰۰ روزآفتابي دارد. این نعمت بزرگ، انکشاف استفاده از انرژي بدیل را در کشور زیاد ساخته که نه تنها در تولید برق جهت تنویر منازل از آن میتوان استفاده کرد، بلکه درگرم ساختن منازل، پخت وپز، واتر پمپ ها، ماشین هاي خورد و بزرگ و حتي براي پیشبرد امورات هاي دولتي چون شفاخانه ها، معارف، روشنائی جاده ها و دیگر عرصه ها نیز استفاده گردد. استفاده از انرژي بدیل نه تنها در انکشاف کشور و رفاه اجتماعی کمک میکند بلکه از استفاده بیش از حد و ریشه کن ساختن جنګلات و دیگر منابع طبیعي که سرمایه باارزش ما و نسل هاي آینده ما است جلوگیري مینماید و همچنان در قسمت پاک نگهداشتن هوا و محیط ما نقش مهم و بارز دارد.

بشتر از (۸۰) فیصد مردم کشورما در دهات زندگي میکنند و اکثراً متکي به مواد سوخت عنعنوي بوده که براي تنویر منازل، پخت و پز و گرم ساختن منازل خویش استفاده مینمایند، همچنان در تعداد ادارات رسمي، مراکز تجارتي و دیگر فعالیت هاي تولیدی و خدماتی نیزاز چوب استفاده صورت میگیرد.

نظر به موقعیت دهات، در وضیعت فعلي افغانستان توسعه برق رساني به ساحات دور دست از طریق شبکه هاي برق رساني کار مشکل و زمانگیر بوده و یگانه راه معقول و سالم استفاده انرژي بدیل آفتاب، آب و باد میباشد. با آنکه استفاده از انرژي بدیل در کشور ما پدیده جدید است اما میتوان آنرا به اساني ترویج و توسعه داد.

**ریاست حفاظت محیط زیست لوګر**






**عابد احمدزی**

ځوانان مو د پخوا په پرتله په ملي مسایلو کې د لوړ احساس، غوڅ دریځ او د غښتلي هوډ خاوندان دي.



**اسلام الدین بها سمندری**

هر کسی که قدم به زندگی شما می گذارد یک معلم است. حتی اگر شما را عصبانی هم کند باز هم درسی به شما آموخته است زیرا محدودیتهای شما را نشانتان داده است. پس آگاهانه و با آرامش با اطرافیان خود رفتار کنید و از تنش، درگیری و بحث های بیجا بپرهیزید.

هرگز فکر نکنید که اگر فلان مرحله زندگی بگذرد، همه‌چیز خوب یا بهتر می‌شود از همه چالش‌ها لذت ببرید ؛

هنر زندگی، دوست داشتن مسیر زندگی است.



**Ata Mohammad Miakhel**

که له سولې سره ملګرتیا ونه کړئ. نو جنګ به د ملګرتیا بلنه درواستوي.

**Abdul Naser Stanikzai**



په ټولنه کې تر ټولو پیاوړي خلک هغه دي، چې د قانون په تطبیق سره ځان کم نه بلکې تر ټولو زیات خپل ځان مسول وګڼي.



**Mohmmadullah Aryn**

مساوات همدا دي چې معززین او معززات هم لکه زموږ په شان تلاشي ورکړي، قانون ومني ،سترې او ګردوهلي سرباز ته سر ټیټ کړي.

پخوا فکر دا وو چې دا د عادي موټرلرونکي په هیڅ کې شماردي خو د فرعوني موټرو وال نه یوازې حقدار بلکه عام او تام واجب الاحترام دي.

په ټولنه کې مساوات همدې ته وایي چې فرعون هم ودریږي او د موسی علیه سلام لښکریان هم.

له تیرو څو ورځو راهیسې ددې وطن اصلي مالکین یانې عادي وګړي خوښ او څوتنه چې په دې وطن کې یې پیسې او کیسې ګټلې ناراضه دي.

دا وطن زرهې موټروالا نه بلکه د الټو ،ریکشا او کرولا مالکین ساتي که یې نه منی په ملي ورځو کې په بیرغونو او وطني شعارونو د مزینو عادي موټرو انځورونه او قطارونه ولټوۍ پوی به شې.

# خپل فرهنګ ته پاملرنه دهرافغان دنده ده !

**فرهنګ دیوې ټولنې هغه مادي او معنوي ارزښتونه، رواجونه، عنعنات او عقاید دي، چې دټولنې په غیره کې نغښتي او ټولنه دتکامل لوري ته بیایي. زموږ اصیل افغاني فرهنګ داسلامي فرهنګ په بنسټ رامنځته شوې، نو ددې لپاره پکارده، چې خپل اصیل فرهنګ دپردیو هېوادونو له ناوړه فرهنګونو څخه وساتو، څو به مو خپل اسلامي او افغاني مسؤلیت او رسالت په ښه توګه ترسره کړي وي. همدارنګه دخپل افغاني دود په پرمختګ او رواجولو کې کوټلي ګامونه اخیستي وي.**

**یوملت ترهغه وخت پورې ژوندی پاتې کیدای شي، چې فرهنګ یې ژوندی وي او دټولنې لخوا خپل فرهنګ ته یې لازمه پاملرنه کړې وي. په تیر څو لسیزو کې کورنۍ جګړو زموږ ملي او افغاني فرهنګ هم زیانمن کړی، ډېرې لرغوني سیمې، تاریخي ځایونه، آبدې، سپیڅلي ځایونه او همداراز دملي او مذهبي ورځو څخه نه یادونه داهغه څه ؤ، چې جګړو افغاني اصیل فرهنګ ته تاوانونه اړولي او ټولنه یې له ناخوالو سره مخ کړي وه.**

**دا چې فرهنګ دیوې ټولنې ملي هویت په پاتې کیدو کې نوې او راتلونکي نسلونو لپاره مهم رول لري، نو همداسې په ژغورنه او ساتنه کې هرافغان مکلف دی، چې په رواجولو کې لومړیتوب ورکړي، څو زموږ راتلونکي نسلونه په افغاني کلتور وویاړي. دفرهنګي چارو کارپوهان وایي: کله چې دیوې ټولنې فرهنګ له منځه لاړشي، نو ټولنه هم دله منځه تلو ګواښ سره مخ کیږي او بالآخره دنښت کندې ته لویږي.**

**نن ورځ ډېری هېوادونه په دې هڅه کې دي، چې څنګه پرموږ خپل فرهنګ پلې کړي، دوی له هرو ممکنه لارو کوښښ کوي، چې زموږ په هېواد کې خپلو ناوړو فرهنګونو ته وده او په رواجولو کې برلاسي ترلاسه کړي.**

**خو بیاهم ددغو هڅو او کوښښونو په وړاندې داطلاعاتواوفرهنګ وزارت دتاریخي سیمو، ټولنیزو معیارونو، پخوانې او تاریخي رواجونو، دیني او مذهبي ارزښتونو ته ځانګړې پاملرنه کړې او زیار ایستې ، چې دهېواد ډېریو سیمو کې ملي، تاریخي او هنري آثار، آبدو او لرغونوسیمو ته ځانګړې پاملرنه او هڅه کوي، چې دهېواد ملي هویت خوندي واوسي.**

**نوموړې اداره خلکو ته جوته کړې، چې دخپل ملي او اسلامي ارزښتونو ساتنه وکړي او دلرغوني افغانستان هویت راتلونکي نسلونو ته په پاتې کیدو؛ ټول هېوادوال په رابللو مسؤلیت منونکي وګڼي.**

**سر له دغو فرهنګي هڅو په دې ورستیو وختونو کې دهېواد ډېریو سیمو کې ځوانانو ښلابښل فرهنګي او ادبي خوځښتونه پیل کړي او دفرهنګي ناستو، مشاعرو، لیکنو، دتاریخي او فرهنګي آثارو دخوندیتوب او رغولو په مټ یې تر یوه بریده فرهنګي لړۍ یې ځولولې. خو نه یوازې په دې بسنه وشي؛ بلکې په دغه اوږده فرهنګي مزل کې ټول هېوادوال خپل ایماني او وجداني مسؤلیت ته ځیرنه او په ښه توګه اداء کړي.**

**دحکومتي ادارې نه ډېره غوښتنه کیږي، چې دتاریخي آبداتو، فرهنګي سیمو، هنري آثارو، سیلاني سیمو او مقدسو اماکینو په ساتنه کې ترخپلې وسې مرستې او غوره چوپړتیاوې ترسره کړي . له نېکمرغه ویلی شو، چې دلوګر داطلاعاتواوفرهنګ ریاست هم په دې ورستیو ورځو کې په دې توانیدلې، چې دافغاني فرهنګ په پراختیا، وده او رغولو کې ګرندي قدمونه اوچت کړي دي، دځوانانو لپاره یې فرهنګي، علمي، ادبي ناستې جوړ کړې. ولس ته یې دفرهنګ په ډګر کې عامه پوهاوي او ارزښتناکې علمي، معلوماتي او کلتوري افکاروپه وړاندې کولو اودلیکنو له لارې مقالې خپرې کړې دي .**

**همدا ډول دهنري آثارو دخوندیتوب په موخه دمحمدآغې په ولسوالۍ کې دیو معیاري موزیم دجوړیدو لومړنۍ چارې پیل او په مرکز کلنګار کلي کې دملک سبزعلي تاریخي زیارت دبیارغولو لړۍ یې پیل کړې ده، چې دغه یادې کړنې دفرهنګ په ساتنه او بډاینه کې لویې لاسته راوړنې بللې شو .**

**په پای کې ټول ولس باندې غږ کوو، چې خپل ملي او مذهبي ارزښتونو ته په جدي پاملرنې سره دفرهنګي یرغل مخنیوی او قاچاق وړونکي دې ته پرېنږدي، چې زموږ دهېواد ملي هویت، ملي شتمنۍ، دتاریخي آثارو ذېزمې او قیمتي ډېرې چور او تالان کړي؛ بلکې په وړاندې خپل ملي رسالت اداء او په ساتنه او رغونه کې له اړونده اداري سره پوره مرسته اوهمکاریو ته راودانګي .**

**لیکنه : شیرمحمدامیني «ستانکزی»**

# د ادیب او ادبیاتو اغیزه په ټولنه کې

ادب یو خاص مهارت او هنر دی، که چېرې یو شخص ادبي او ښکلا یز ذوق او علاقه ونلري هغه د ادب په خوند او فن نه پوهیږي او هغه څوک چې ادبي ذوق لري هغه د ژوند په خوند، رنګ او د ژوند په ټولو اړخونو خپله هم پوهیږي او نور هم پوهولی شي .

د پوهانو او د نظر خاوندانو د نظریاتو په پایله کې دې موخې ته رسیږو، چې ادبیات خلکو ته د ښکلا او خوښي وربښلو تر څنګ له ژوند سره مینه او د ژوند په اسرارو پوهیدلو دنده پرغاړه لري .

که چېرې د یوې ژبې ادبیات مطالعه شي څرګنده به شي چې د تاریخ په اوږدو کې ادب د ولس د ذهني ویښتیا، معنوي لوړتیا، ټولنیز اصلاح او سمون لپاره یوه ښه وسیله ګرځیدلې او په انسانانو کې یې د کار او عمل جذبې را پارولې. دیني، مذهبي عقایدو، ټولنیزو اخلاقي خیر ښېګڼو، قومي او ملي احساسات را ویښولو یوه آله ده .

ادب داسې یوه پیاوړې وسیله ده، چې د انسان له زړه څخه سرچینه اخلي او په زړونو اثر پرېباسي یا ادب له ژوند څخه ژوند اخلي او کله چې یې خلک مطالعه کوي له ژوند سره علاقه پیدا کوي .

خوشحال بابا وایي: که په نظم کې ګارګه او ټپوس راوړې هم دزړونو په ښکار ګرځي لکه باز په ادب کې ټولنیز ارزښتونه ځای پرځای کیږي او خامخا په یوه اوبل ډول په ادب ځان ښکاره کوي. که په یوه ټولنه قضاوت کیږي او یا د هغې ټولنې ښېګڼې او بد ګڼې معلومیږي نو دهغو خلکو په ادب کې د هغوی معنوي او ټولنیز ارزښتونه کتل کیږي ادب دی چې د ټولنې دخلکو د افکارو او نظریاتو څرګندویي کوي .

ادبیات د ټولنیز ژوند هنداره ده ؛ خو د ادب فرق له هندارې څخه دا دی چې هنداره د هرشي شکل او تصویر پخپله ښه ښیي او ادبیات سره له دې چې د ټولنیز ژوند ښه او بد څرګندوي د خپلو بد مرغیو عوامل او له هغه څخه د د ژغورنې لارې چارې هم په ګوته کوي او ولس د غفلت له خوب څخه بیداروي .

نو پکار دا دی چې کله هم یو څوک د ادب دغه سپیڅلي ډګر کې قدم ږدي باید د ادب په میزان وتلل شي او د ناوړو پنو سره داخل نه شي .

کله چې د ادب یادونه کیږي زموږ ذهن هغه موزون کلام ته ځي چې شعر نومیږي ؛خو دا باید له یاده ونه ویستل شي چې نثر د ادب بله اړینه برخه هم دی .

دا چې ادبیات یا ادب یوه ستره او مقدسه کلمه ده پخپل ځان کې قلبي عواطف لکه رحم، مروت، کرم، شجاعت...را نغاړي او په هغو موضوعاتو راڅرخي چې په هغه کې لوړ خیال، عالي احساسات، دزړه تاثرات، د غم او خوشحالي خوبونه، روحي او جسمي ښکلاوې، عشق او محبت ځای ولري. د نوموړو موضوعاتو څرګندوونکی باید ځانګړی شخص وي او د فکر پراخوالی، زړورتیا، فکري ابتکار، په زړونو هیجان... نور مهارتونه ولري او له تقلید څخه پاک او سپیڅلی وي. شاعر او ادیب عادي کس نه دی. دی د ټولنې غړی دی او په ټولنه کې د شته ښېګڼو او رازونو ترڅنګ د ناخوالو راسپړوونکی دي.

**لیکوال : حفیظ الله «ریحان»**

# خبرتیا

**دلوګرولایت ټولو شریفو، وطن پرستو، باغیرته مشرانو او ځوانانو ته خبر ورکول کیږي، لکه څنګه چې تاسو ته دا روښانه ده، چې دوطن خدمت کول اسلامي او ملي وجیبه ده. په لاندې شرایطو برابر کسان کولی شي، هره ورځ دوسله وال پوځ لیکو کې دشاملیدو په موخه دلوګر ولایت دجلب او جذب قومندانۍ ته مراجعه وکړي، زموږ دروازې ستاسو پرمخ خلاصې دي .**

**شرطونه :**

**۱ – دیو ځوان عمر باید له (۱۸) کلونو څخه شروع تر (۴۴) کالونو پورې وي .**

**۲ – دتابعیت تذکره ولري .**

**۳ – په نیشه یي توکو باندې روږدي نه وي .**

**۴ – معیوب او معلول نه وي .**

**۵ – فزیکي او جسمي توانایي ولري .**

**۶ – هغه ځوانان چې د تعلیم کچه یې د(لسم) ټولګي څخه او یا تر (دولسم) ټولګي پورې وي. دبریدملي کورسونوته معرفي کیږي او وروسته یو برجسته او وطنپال منسوب ترینه جوړیږي، چې دخپلې کورنۍ او وطن لپاره دخدمت جوګه وګرځي.**

**دلازیاتو مالوماتو دترلاسه کولو لپاره لاندې شمیرو سره اړیکه نیولای شئ.**

**۰۷۴۸۳۸۵۸۵۸ – ۰۷۷۰۷۰۰۴۴۰**